مجلهٔ علمی-تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
https://jss.edu.af

# د ماشومانو پر پېژندیزه او فکري وده د کیسو اغېزې

**پوهنمل اسدالله کلیوال**

ارواپوهنې څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، سید جمال الدین افغان پوهنتون، کنر، افغانستان
ایمیل: Kaliwalassad@gmail.com

**چکیده**

دغه څېړنه چې په ماشومانو کې د پېژندیزې ودې پر څرنګوالي د کیسو اغېزې راښیي، موخه یې پر ماشومانو د کیسو اورېدو اغېزې روښانه کول دي. دا توصیفي څېړنه په مروري شکل تر سره شوې. د څېړنې پوښتنو ځوابولو لپاره مختلفې څېړنې او لیکنې تحلیل شوي او د څېړنې پوښتنې ځواب شوي دي. ماشومانه کیسې اورېدل په ماشومانو کې د لغاتو زېرمې زیاتولو، فکري جریان او تخیلي نړۍ رامنځته کولو، زده‌کړې او ذهني جوړونې له لارې د هغوی پر پېژندیزه وده اغېزه کوي. هغه کیسې چې د ماشومانو له عمر سره برابرې ځانګړنې ولري د ماشومانو د خوښې وړ ګرځي. ماشومانه کیسې باید لنډې او مصورې وي چې د ماشوم پاملرنه له ځان سره وساتي او درک شي. د کیسو اورېدلو پر مهال د ماشومان پوښتنو ته دې د هغوی له ذهني ودې سره مناسب اکتشافي ځواب ورکول شي.

**کلیدي کلیمې**: پېژندنه؛ تفکر؛ کیسه؛ ماشوم؛ وده

# The Effects of Stories on Children's Cognitive and Intellectual Development

**Asadullah Kaliwal**

Department of Psychology, Faculty of Education, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: Kaliwalassad@gmail.com

**Abstract**

This study examines storytelling's impact on children's cognitive development, aiming to elucidate the effects of listening to stories on child development. The research employs a narrative review method. To address the research questions, various studies and articles have been analyzed. Findings indicate that listening to children's stories influences cognitive development by expanding vocabulary, stimulating thought processes, fostering imagination, and facilitating learning and mental construction. Stories with age-appropriate characteristics are more appealing to children. Children's stories should be concise and illustrated to maintain attention and enhance comprehension. When children ask questions during or after storytelling, it is recommended that exploratory answers be provided that are appropriate to their cognitive development level.

**Key words**: Child; Development; Introduction; Story; Thinking

**ارجاع**: کلیوال، ا. (۱۴۰۳). د ماشــومانو پر پېژندیزه او فکري وده د کیســو اغېزې. *ژورنال علوم اجتماعی-پوهنتون کابل* ۷(۲). ۱۷۹-۱۹۲. https://jss.edu.af/jss/article/view/42

**سریزه**

د ماشومتوب عمر د ودې له مختلفو اړخونو څخه مهم دی او ماشوم په دغه عمر کې ډېره وده کوي. د ودې له اړخونو څخه یو هم پېژندیزه او فکري وده ده چې د ژوند په ټولو چارو کې خورا مهم رول لوبوي. پېژندیزه وده لکه د ودې د نورو اړخونو په څېر د ژوند په اوږدو کې دوام لري او بشپړېږي چې د ودې یوه اساسي دوره یې هماغه د ماشومتوب عمر دی. په پېژندیزه وده کې پېچلي ذهني بهیرونه شاملېږي چې د عمر په اوږدو کې له کیفي اړخه بدلون پیدا کوي. دغه بدلون موندل یوه طبیعي خبره ده؛ خو د ښه او محرك چاپېریال په رامنځته کولو سره د ودې په دې برخه کې چټکتیا رامنځته کولای شو.

د ودې دغه اړخ هم لکه د نورو هغو په څېر له مختلفو عواملو څخه اغېز مني. ځینې دغه عوامل له زېږون مخکې عمر پورې، ځینې یې د زېږون پر مهال او ځینې یې له زېږون وروسته عمر پورې اړوندېږي. که دغو درې ډلو عواملو ته وکتل شي، په هره ډله هغو کې لسګونه نور داسې عوامل شته چې پېژندیزه وده اغېزمنوي. دلته موږ غواړو له زېږون وروسته عواملو کې د چاپېریال اړوند د ماشومانه کیسو او نکلونو اغېزه مطالعه کړو. که د کورنیو دننه ژوند ته نظر وکړو، ښکاره معلومېږي چې ماشومان تر کومه بریده دغه کیسې خوښوي او د کورنۍ د غړو له لوري وخت نا وخت ورته دغه کیسې ویل کېږي، تر دې چې د لږ ډېر عمر ماشومان یې د ماشومانه کیسو په کتابونو کې هم لولي. په کورنیو کې ډېری وختونه دغه کار د ماشومانو د ساعت تېرولو او بوختیا په موخه تر سره کېږي؛ خو که مېندې پلرونه او نور مشران چې ماشومانو ته کیسې کوي لږ غور او دقت وکړي د هغو ګټه نوره هم زیاتولای شي. یعنې کولای شي ماشومانو ته د کیسو کولو له لارې د هغوی پېژندیزه او فکري وده هم غښتلې کړي. د ماشومانو لپاره د مناسبو کیسو او نکلونو جوړول او هغوی ته یې په مناسب ډول وړاندې کول هغه څه دي چې له کیسو سره د ماشومانو په ذوق زیاتولو کې مرسته کوي. د ماشومانو عمر، جنس او نورو ځانګړنو ته په کتو د هغوی لپاره د مناسبو کیسو پېژندل او ټاکل مهم او اړین دي.

**د څېړنې اهمیت او اړتیا**

د انسان په ځانګړي ډول د ماشوم پېژندیزه او فکري وده له ځانګړي اهمیت څخه برخمنه ده. سره له دې چې د ودې د دې اړخ پرمختګ او بشپړتیا په ټول عمر کې دوام مومي؛ خو بنسټیزه او لومړنۍ برخه یې د ماشومتوب عمر کې تکملېږي. له زېږون څخه تر بلوغ پورې دغه عمر د پېژندیزې ودې بېلابېل پړاوونه تېروي او له ډول ډول حالاتو څخه اغېزه مني. د ماشومتوب دورې پر پېژندیزه او فکري وده اغېز لرونکي عوامل زیات دي؛ خو د هغو له ډلې یو یې هغه ماشومانه کیسې دي چې په افغاني ټولنه،

کلیو او بانډو کې خورا دود هم دي او د ماشومانو ـ لویانو او ماشومانو خپلمنځي ناستو کې ویل کېږي . په ماشومتوب عمر کې د کېسو اورېدل او لوستل ماشومان فکر کولو او تخیل ته هڅوي او په کیسو کې د مختلفو موضوعاتو په هکله فکر کول یا د کیسو یادول د هغوی پېژندیزه وده پیاوړې کوي. که څه هم د کیسو اورېدل د ماشومانو لپاره سالمه تفریح هم ده؛ خو همدغه کیسې اورېدل او ویل د دوی له پېژندیزې ودې سره اړیکه پیدا کوي. دا مهمه ده چې یادې کیسې د ماشومانو پر پېژندیزه او فکري وده څه ډول اغېزه کوي او د ماشومتوب په هر عمر کې کوم ډول کیسې ماشومانو ته واورول شي.

### د څېړنې ستونزه

د انسان یو لوی امتیاز دا دی چې تفکر کولای شي، سمبولونه کارولای شي، د ژوند چارو لپاره پلان جوړولای شي او پر چاپېریال غلبه پیدا کولای شي؛ خو دا هر څه د پېژندیزې او فکري ودې په شتون او پرمختګ کې امکان پیدا کوي. پېژندیزه او فکري وده یو پېچلی او پراخ جوړښت لري، چې کارکړنې یې په ټولیز ډول ټولو انسانانو کې یو شان خو د وګړیزو توپیرونو په پام کې نیولو سره بیا هر څوک خپل ځانګړی پېژندیز او فکري جوړښت لري چې د مختلفو ارثي او چاپېریالي عواملو تر اغېز لاندې یې شکل نیولی وي. د ودې دغه اړخ د عمر په اوږدو کې بدولن مومي او پرمختګ کوي؛ خو بنسټ یې د ماشومتوب دوره کې جوړېږي. که پر پېژندیزه او فکري وده د چاپېریالي عواملو لوري ته راشو، وبه وینو چې محرك چاپېریال د پېژندیزې ودې له چټکتیا سره مرسته کولای شي. په چاپېریالي عواملو کې یو څه چې په افغاني کورنیو کې ډېر لیدل کېږي هغه ماشومانو ته کیسې کول دي. که څه هم ډېری وختونه دغه کار د ماشومانو ساعت تېرولو لپاره تر سره کېږي؛ خو کېدای شي نورې اغېزې هم ولري په ځانګړي ډول د هغوی پر پېژندیزه او فکري وده باندې. د ماشومتوب دورې په خاصو کالونو کې ماشومان له کیسې اورېدلو سره مینه پیدا کوي خو له کوم ډول کیسو سره؟ ماشومان کوم ډول کیسې په مینه اوري؟ یعنې د دوی له عمر او پېژندیزې ودې سره متناسبې کیسې کومې دي؟ مهمه دا ده چې که ماشومانه کیسې اورېدل د ماشوم پر پېژندیزه او فکري وده اغېزه لري؛ نو څنګه؟ دا کیسې باید څه ډول ولیکل شي چې د ماشومانو د پېژندیزې او فکري ودې لپاره محرك واقع شي؟ د دې څېړنې مسئله هم دا ده چې د ماشومانو کیسو اورېدل د ماشوم پر پېژندیزه او فکري وده څه ډول اغېزه کوي او دغه کیسې باید څه ډول وي چې د ماشومانو لپاره لاګټورې ثابتې شي.

### د څېړنې موخې

دا څېړنه د لاندې موخو لاسته راوړلو لپاره تر سره کېږي:

۱. په ماشومانو کې د پېژندیزې ودې څرنګوالی مالومول.

۲. د ماشومانو په پېژندیزه وده کې د کیسو رول روښانه کول.

۳. د ماشومانو له عمر سره سم د مناسبو کیسو پېژندل.

### *د څېړنې پوښتنې*

۱. په ماشومانو کې پېژندیز او فکري بدلون څنګه رامنځته کېږي؟

۲. آیا ماشومانه کیسې اورېدل د ماشوم پر پېژندیزه وده اغېز لري؟

۳. د ماشومانو لپاره مناسبې کیسې کومې دي؟

### د څېړنې مېتود

دا څېړنه چې د ماشومانو پر پېژندیزه او فکري وده د ماشومانه کیسو اورېدلو اغېزه را ښيي یوه توصیفي ـ کارېدونکې څېړنه ده. دغه څېړنه په مروري شکل تر سره شوې؛ لومړی د موضوع اړوند مختلف کتابونه، مقالې او لیکنې وکتل شوې او له مربوطه اطلاعاتو څخه یې د دې څېړنې په نظري برخه کې کار واخیستل شو. د څېړنې پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره د مختلفو عمرونو ماشومانو په دې هکله تر سره شوې ۳۰ څېړنې چې په بېلابېلو هېوادونو کې تر سره شوې وې له مختلفو سایټونو څخه را واخیستل شوې چې تر کتنې وروسته د ۲۰ څېړنو موندنې تحلیل شوې، پایله ځینې واخیستل شوه او د څېړنې پوښتنو ته یکې ځواب وموندل شو.

### موندنې

#### *د ماشومانو پېژندیزه وده او ماشومانه کیسې*

له زیږون څخه نیولې تر بلوغ پورې ټوله دوره د ماشومتوب دوره ده او هر هغه څوک چې پدغه دوره کې شتون لري ماشوم بلل کېږي. دغه دوره چې ممکن تر ۱۱ یا ۱۲ کلنۍ (په ځینو کې ان تر ۱۵ کلنۍ) دوام پیدا کړي په درې بېلابېلو برخو وېشل کېږي چې لومړنی ماشومتوب، دویم ماشومتوب او درېیم ماشومتوب یې ګڼلای شو. د ماشومتوب هره دوره ځیني خصوصیات لري چې له نورو دورو سره توپیر لري. پېژندنه پوهېدلو، په یاد راوړلو، فکر کولو او په یو شي پوهېدلو ته وایي او په دغو جریانونو کې د وخت په تېرېدو سره د منظمو تغییراتو رامنځته کېدو ته پېژندیزه وده ویل کېږي (سیف، ۱۳۹۵، ۸۹ مخ). د ژان پیاژه پېژندیزې ودې نظریې له لیده د لومړني ماشومتوب (زیږون څخه تر دوه کلنۍ) ماشومان په حسي ـ حرکتي پړاو کې وي. یعنې د ماشوم ذهن د خولې، سترګو، غوږونو، لاسونو او نورو حسي ـ حرکتي غړو له لارې په کار لوېږي؛ داسې چې نړۍ او چاپېریال د خپلو کړنو او حواسو له لارې پېژني. یعنې د دې دورې ماشومانو د پېژندګلوي یوازینۍ لار همدا ده. برونر بیا دغې دورې ته د عملي

پېژندګلوي[1] پړاو وايي. د برونر (۱۹۶۶) په باور ماشوم په دې عمر کې تصور او تفکر نشي کولای، هوش يې عملي وي او فکر کول د ماشوم لپاره هماغه عمل کول وي. هر شی چې د ماشوم له ليد څخه لرې وي په ذهن کې يې ځای نلري. په دې مانا چې ماشوم له حسي ـ حرکتي لارې کړنې تر سره کوي (سيف او ملګري، ۱۳۸۹، ۹۱۳ مخ). د بندورا په نظر د ماشومانو د سلوک اصلي ټاکونکي عوامل پېژنديز جريانونه دي. د پياژه په لار تلونکي نوي نظرپوهان چې ځانونه د اطلاعاتو زېرمه کولو نظريې پيروان بولي، په دې باور دي چې وده‌ييز بدلونونه په ماشوم کې د اطلاعاتو په زېرمه کولو پورې تړلي دي، يعنې وده د اطلاعاتو زېرمه کولو په ځواک پورې تړلې نه د ماشوم په پېژنديزو جوړښتونو پورې (ميرزاد او حبيبي، ۱۳۹۹). همدارنګه پينل (۱۳۹۲) ليکي، د شمالي امريکا ډېرى لومړني زمايښتي ارواپوهان په پوره ډول د ځينو کړنو په رامنځته کېدو کې د زده‌کړې پلويان وو. په هر حال، د ژوند د لومړيو دوو کلونو پېژنديزه وده په شپږ کوچنيو پړاوونو وېشلای شو چې په هر پړاو کې ماشوم له ځانګړو چاپېرياليي محرکاتو څخه زده‌کړه کولای شي.

سره له دې چې د ژان پياژه په نظريه کې له درې تر ۱۱ کلنۍ عمر د پېژنديزې ودې په دوو بېلو بېلو دورو چې له دوو تر شپږ او له اووه تر ۱۱ کلنۍ پورې دي وېشل شوی؛ خو د برونر له نظره بيا د عمر دغه وخت د پېژنديزې ودې د يو پړاو په توګه مطرح شوی دی چې دوه نيمه پړاوونه لري؛ کټ مټ د پياژه د نظريې په څېر. له دوه تر اووه کلنۍ عمر کې ماشوم د منطقي تفکر وړتيا نلري؛ خو ماشوم د سمبولونو په کار وړلو له لارې فکر کول کولای شي (سيف، ۱۳۹۵، ۱۰۴ مخ). دې دورې ته د تصويري پېژندنې[2] پړاو ويلای شو. موږ دلته دغه ټوله دوره په کوچنيو پړاوونو وېشو او د هر پړاو عمر او ځانګړنې ذکر کوو. لومړی پړاو: مستقيم درک يا شهودي پړاو (له دوه تر څلور کلنۍ). په دې پړاو کې رواني جوړښت په نويو ذهني وسايلو سمبالېږي. ماشوم د حسي ـ حرکتي يا عملي دورې په وروستيو کې په چټکۍ سره نوي ذهني وسايلو ( ژبې، رمزي کړنو، ذهني تصوير جوړونې او د پټو نمونو پيروي) ته پراخوالی ورکوي او ځای پر ځای کوي يې. دويم پړاو: د ادراکي شکل بندي پړاو (له څلور تر پينځه کلنۍ). په دې پړاو کې د عملياتي ظرفيت په کار وړل لږ لږ ليدل کېږي؛ مګر تر اوسه هم لا د ډېرو ساده منطقي کړنو تر سره کول امکان نلري. ماشوم په شکلونو کې د دوو رديفونو ته د مطابقت ورکولو په مسأله کې لا هم د شکل بندي په لومه کې نښتی. درېيم پړاو: د منځ منځي پړاو (له پينځه تر اووه کلنۍ). دا يوه منځنۍ دوره ده چې ماشوم بلې نيم‌دورې ته د ورداخلېدو په درشل کې دی [له درې تر اووه کلنۍ لومړۍ نيمدوره او له اووه تر ۱۱ کلنۍ دويمه نيمدوره حسابېږي]. دا د کړنو په تر سره کولو کې

[1] . enactive representation
[2] . iconic representation

نسبي پرمختګ راښيي. ماشوم تر اوسه پورې هم نشي کولای يو ساده عمل؛ مثلاً: له غټ څخه د کوچني پر لور يا برعکس د لرګيو په سمه توګه ترتيبول، په سمه توګه تر سره کړي.

د منطقي عملياتو د استقرار پړاو: (له اووه تر ۱۱ کلنۍ). په دې پړاو کې ماشوم خپلو هغو ظرفيتونو ته لوړوالی ورکوي چې مخکې يې لاسته راوړي او په لومړنيو عيني منطقي عملياتو تر سره کولو بريالی کېږي. دلته کولای شي هغه عيني ـ عملياتي کړنې تر سره کړي چې انتزاعي ندي. دا دوره په دوو برخو يا وړوکو پړاوونو وېشلای شو:

۱. لومړی پړاو چې په چوکاټ کې يې د ساده ذهني عملياتو ساتل تحقق مومي.

۲. دويم پړاو چې پکې د يو لړ پراخو نظامونو (د وخت او فضا په اړه) د تکميل شاهدان يو (منصور، ۱۳۹۵). له اووه تر ۱۱ کلنۍ عمر د پېژنديزې ودې يوه ځانګړنه د پايښت مفهوم درک کول يا ذهني پايښت[3] دی. مهم شی چې پدې دوره (اووه تر ۱۱ کلنۍ) کې راښکاره کېږي دا ده چې د ماشوم فکري جريان له کيفي پلوه کرار کرار لويانو ته نږدې کېږي يعنې د پايښت او ذهني ساتنې مفهوم درک کولای شي. د ماشوم تفکر د عيني کړنو پر بنسټ تر سره کېږي خو د مختلفو کړنو د امکاناتو پايلو په هکله فکر کولای شي (ميېرزاد او حبيبي، ۱۳۹۹).

له ۱۱ کلنۍ پورته عمر پړاو د صوري يا خيالي عملياتو او يا هم د نمادي شناخت په نوم يادېږي، چې له ۱۲ کلنۍ څخه پيل او په لويوالي عمر کې دوام مومي (منصور، ۱۳۹۵، ۱۰۵ مخ).

برونر په خپلو ليکنو کې په ښکاره توګه وايي چې ماشومانو ته د مفاهيمو ورښودلو لپاره ځانګړې طريقې شتون لري. دوی که په هر عمر کې وي موږ دا کار کولای شو او اړ نه يو چې د ماشوم طبيعي چمتووالي ته وخت ضايع کړو. هغه په دې ټکي ټينګار کوي چې تر ټولو پرمختللی تفکر چې ماشوم يې د لويانو په مرسته لاسته راوړي، تر ټولو مناسب ډول هم دی؛ مګر پياژه بيا دا نظر لري چې هر ډول فکر ماشوم په کار وړي هماغه تر ټولو مناسب دی (سيف او ملګري، ۱۳۸۹، ۸۲ مخ). برونر باور لري چې کولای شو هره موضوع ماشوم ته په هماغه توګه وروښيو چې هغه چاپېريال درک کوي او له هماغې ځانګړې مانا څخه ګټه واخلو چې چاپېريال يې ده ته لري. يعنې کولای شو هره موضوع د ماشوم په ځانګړې ژبه واړوو او د هغه د فکري قالب په تعبيرونو کې يې راولو. د ماشوم لپاره هېڅ موضوع سخته نده پدې شرط چې د ماشوم په فکري ژبه يې واړوو. د برونر په باور پېژنديزه وده له درې پړاوېزو نظامونو څخه تېرېږي چې هغه يې له پړاوېزو ګامونو سره تشبيه کوي. دغه هر ګام معلومې ځانګړنې لري او د هر يوې وده د بل ګام لپاره اړينه ده؛ مګر د هغه په باور د دغو ګامونو چټک کولو يا ټکني کولو کې چاپېريال

---

[3]. conservation

مهم رول لري. غني چاپېريال له ماشوم سره مرسته کوي چې ژر او په ټيټو پړاوونو کې ذهني ساتنې ته لاسرسی ومومي (سيف او ملګري، ۱۳۸۹، ۹۰ مخ). ويګوتسکي (۱۹۸۱) باور لري چې د پېژندېزې ودې ټاکونکی بنسټيز عامل ټولنيز چاپېريال دی. د ماشوم پېژندېزه وده په هغو خلکو پورې تړلې چې د ماشوم په نړۍ کې ژوند کوي. پوهه، فکر، ليدلوری او فردي ارزښتونه له نورو سره په تعامل کې بدلون مومي (سيف، ۱۳۹۵)؛ نو هغه څه چې په چاپېريال پورې اړوندېږي او د ماشوم پر پېژنديزه وده اغېز هم لري او په افغاني کورنيو کې هم ډېر ليدل کېږي، ماشومانه کيسې دي. کيسې يا نکلونه ويل او د ماشومانو له لوري اورېدل هغوی ته محرك فکري چاپېريال برابرولای شي او دا کار د پېژنديزې او فکري ودې له چټکتيا سره مرسته کولای شي.

"کيسه يو ساده او بې طرفه روايت دی، چې پر پېښو او څرګندونو ولاړه ده، کله چې يې لوستونکی لولي يا يې اوري له کومې ځانګړې پېچلتيا، لوړتيا او ځوړتيا سره نه مخ کېږي" (صياد، ۱۳۹۷، ۱۴ مخ). "په پښتو داستاني او کيسه‌يي ادبياتو کې لنډه کيسه چې د غرب له (شارټ ستوري) سره سمون خوري هغه وخت رامنځته کېږي چې زموږ په ادبياتو کې کلاسيکه عنعنه له يوې خوا ولسي او فولکلوري آثار او نمونې له بلې خوا د غربي دنيا نوې هنري اغېزې له دريم اړخ څخه د پاملرنې وړ وې" (انځور، ۱۳۹۳، ٦۱ مخ). دغه کيسې ډېری د نکلونو په شکل په شفاهي توګه ويل کېږي؛ خو که د نکل تعريف ته وکتل شي نو نکل ندی. په هر صورت، زموږ موخه هماغه ماشومانه کيسې دي که هغه د نکل په شکل ويل کېږي او که د کيسې په شکل. ماشومانو ته کيسې ويل د هغوی د حافظې د غښتلتيا سبب کېږي، سټرس يې کموي، تخيلي ځواك يې تحريکوي او ماشوم نور هم تاسو ته در نږدې کوي؛ خو ماشومانو ته د کيسو ويلو پر مهال هڅه وکړئ چې د کتاب يا کيسې محتوا مناسبه وي، مناسب عکسونه او تصويرونه ولري، تصويرونه رنګارنګ وي او د ماشوم عمر سره متناسب وي.

ماشومانو ته د تفکر ورښودل يو ښوونيز پلان دی، په دې پلان کې له کيسو څخه د اصلي ښوونيزو موادو په توګه کار اخيستل کېږي؛ ځکه باور پر دې دی چې کيسې د ماشومانو پېژنديز مهارتونه او د پوښتنو کولو ځواك پورته وړي چې په پايله کې د هغه د استدلال ارزونې، د علت او معلول اړيکې درك کولو، د مفاهيمو کشف او تحليل او له پېښو څخه د سم درك کولو ځواك پورته وړي. د کيسو اورېدو پر مهال ماشومان (لوی ماشومان) په ذهني تصوير جوړونه لاس پورې کوي. ماتلين (۱۳۸۵) دا يوه داسې عمليه ده چې څيزونه په ذهن کې له جسمي شتون پرته اجرا کېږي. د رشتچي (۱۳۸۹) څېړنه ښيي چې ياد مېتود له لويانو سره د ماشومانو اړيکې زياتوي، د هغوی د تفکر قدرت زياتوي او له ټولنيزو مسايلو او کړنو سره يې بلدوي. اروايوهان وايي، د ماشومانو ساده او مترنم موضوعات ژر زده

کېږي او په حافظه کې یې ښه ځای نیسي خو له دې سره سره هڅه دا وي چې ماشوم ته ښه پیغام هم ورسوي (نظري، ۱۳۹۹). په تفکر کې موږ په دې هڅه کې لوېږو چې خپل ذکاوت تر کنټرول لاندې راولو او له هغو څخه د ورځینو ستونزو په حل او نورو برخو کې ګټه واخلو (فاضل، ۱۳۸۵، ٦۱۳ مخ). د کیسو کتابونو ژبه باید ځانګړې خو نه انحصاري شکل ولري، دغه کتابونه په پېژندیزې همدلۍ را منځته کولو کې مرسته کوي (Kucirkova, 2019). د کیسو په اورېدلو کې هم ماشومان تفکر کولو ته تحریک کېږي؛ خو د دې لپاره چې کیسه د ماشومانو لپاره په زړه پورې او ګټوره وګرځي ښه ده چې لاندې ځانګړنې ولري:

- لنډې او ساده ولیکل شي: داسې چې د پېچلو موضوعاتو او کلیماتو له راوړلو پکې ډډه وشي او ډېرې اوږدې ونه لیکل شي؛ ځکه د ماشومانو د پاملرنې دوره ډېر لنډ ده او که کېسه اوږده شي ماشومان یې تر پایه نه شي تعقیبولی او تېرو تېرو یې په یاد نه وي. ماشوم په یوه موضوع فکر راټول کړي او که د پاملرنې جریان پرې کېږي؛ نو د درک په پروسه کې خنډ رامنځته کېږي. ځینې پوهان وايي چې یوه ماشومانه کیسه باید له ۴۰۰ تر ۵۰۰ کلیمو زیاته نه وي. کیسه باید دومره اوږده نه وي چې ماشوم ستړی کړي.
- په کیسه کې د ښو او بدو توپیر په ډېر ښکاره ډول سره شوی وي: د دې لپاره چې ماشومان دغه مفاهیم یاد کړي باید له ساده او واضح حالت څخه پیل شي. واړه ماشومان لا هم له اخلاقي پلوه په ټیټو پړاوونو کې وي؛ نو د ښه او بد مفهوم هغه ډول چې لویان درک کوي نشي درک کولای. همدا ده چې په ماشومانو کیسو کې باید دغه مفاهیم ډېر روښانه او ساده ذکر شي چې ماشومان یې هم درک کړي.
- په یوه ښه ماشومانه کیسه کې مثبت ټکي پر منفي هغو غښتلي وي: یعنې کیسه باید په مثبته روحیه ولیکل شي او له منفي پېښو یا بوږنوونکو حادثو څخه پکې ډډه وشي. دغه ډول پېښې ماشومان وېروي. ښه دا ده چې مثبتې کړنې پکې شتون ولري او د امکان تر بریده هر اخلاقي او نېک کار تشویق ولري. کشاورز (۲۰۱٦) لیکي: ''کله چې نور زموږ لپاره او موږ ته تصمیم نیسي نو مسؤلیت یې زموږ له اوږو لرې کېږي'' (۵۷۷ مخ)؛ نو کیسه باید داسې وي چې ماشوم یې پخپله پایلې وسنجولای شي او پرېکړه وکړي چې څه وشول.
- د ماشوم لپاره ښه کیسه باید متغییر او فعال شخصیتونه او اتلان ولري: ماشومان د کیسو له اتلانو سره ځان جوړونه غواړي او په ذهن کې ځان د هغو پر ځای ګوري؛ نو دغه شخصیتونه یا اتلان باید له مختلفو خلکو سره چې ماشوم ته په ژوند کې مهم دي لکه: مور، پلار، ښوونکی او ... ورته‌والی ولري. دغه کار له ټولنیز اړخه ماشوم سره ښه مرسته کوي.

- ماشومانه کیسه باید په زړه پورې او ماشومانه بیان ولري: د دې لپاره چې یوه کیسه د ماشومانو لپاره وي باید ماشومانه ژبه ولري. که هغه څه چې په کیسه کې ویل کېږي ماشومان یې درک نکړي، له کیسې سره یې مینه کمېږي. د ماشومانه کیسې کلیمې او جملې باید ساده او لنډې وي. اوږدې جملې له ماشومه لار ورکوي او د کیسې خوند هم کموي. هغه کیسې چې تخصصي کلیمي پکې کارول شوي وي، د ماشومانو لپاره مناسبې نه دي؛ ځکه چې د ماشوم د حواسو تمرکز له اصلي موضوع څخه تیتېږي.
- په کتابونو کې ماشومانه کیسې باید په زړه پورې او رنګه تصویرونه ولري: که لیکل شوې کیسې یوازې کلیمې وي ماشومان دومره ستړي کوي چې حواس یې تیتېږي او د کتاب له لوستلو لاس اخلي. په همدې خاطر د تصویرونو ځای پر ځای کول اړین دي.
- یوه ښه کیسه باید روښانه پیل، ادامه او پای ولري: ماشومان یوازې واضح او روښانه جوړښتونه تشخیصولای او ور سره اړیکه ټینګولای شي. د کیسې ستونزمنتوب ماشومان ناهیلي کوي او د دې سبب کېږي چې کیسه پرېږدي.
- یوه ښه کیسه د هر ماشوم د فهم وړ وي: ښه ماشومانه کیسه هغه ده چې په ماشومانو کې د شته فردي توپیرونو (جنس، رنګ، علاقه، د قوت ټکي، کمزوري ټکي او ... ) سره سره ټولو ته د پوهېدو وړ وي (رضایي، ۱۳۹۳، ۶۵ مخ).

کیسې د ماشومانو د ودې په څو اړخونه لکه غوږ نیولو، لوستلو، ژبې، تفکر، هوښ، حافظې او ادراک باندې اغېزه کوي (Rana, 2014). کیوي او ملګري (۱۳۹۵) یې د یوې نیمه ازمایښتي څېړنې په ترڅ کې چې د اردبیل ښار ابتدایه ښوونځیو څخه ۳۰ تنه د نمونې په توګه ټاکل شوي وو وښوده چې دغو کیسو د ماشومانو په نفس باور زیاتولو، تمرکز او له همزولو سره په اړیکو اغېزه لرله. نور (۲۰۲۲) ښیي چې ماشومانه کیسې کولای شي په ماشومانو کې د لوست مهارت پیاوړی کړي. کله چې ماشومان د کیسو کتابونه لولي او یا کیسې اوري له مختلفو جملو او کلیمو سره مخامخ کېږي. دا کار یې د لیکلو مهارت غښتلی کوي او د لغاتو زېرمه یې پراخوي. ښوونکو او رونیزو څېړونکو د محرک په توګه د نیمګړو جملو، عکسونو او کیسو څخه یادونه کړې ده (McEwan, Hunter, & Egan, 1995). په کیسو کې ماشومان له داسې لغتونو سره مخ کېږي چې مخکې یې نه وي اورېدلي؛ همدا وي چې پوښتنه کوي او ځان ور باندې پوهوي. خو دا باید په پام کې ونیول شي چې په کیسه کې کارېدونکي لغتونه باید ډېر پېچلي نه وي. دا چې په کیسه کې کرکټرونه شتون لري کوچنیان له کرکټرونو څخه په ګټه اخیستنې سره ځینې داسې مسایل پېژني چې هغوی ته پیاوړی حس ورکوي، لکه: زړورتیا، کوښښ او

... . همدارنگه کله چې ماشوم په کیسه کې اوري چې د کیسې اتل له ډېرو کوښښونو وروسته خپلې موخې ته رسېږي او یا د ډېرې زړورتیا له امله خپل مرام ته رسي؛ نو ماشوم دا حس پیدا کوي چې په ژوند کې هر څه ممکن دي خو د لاسته راوړلو لپاره یې څه کول پکار دي. ماشومان کولای شي په کیسه کې پرته له دې چې خپل ځان څرګند کړي احساسات بیان کړي. کیسه ماشوم فکر کولو ته هڅوي او ماشوم هغه څه درک کوي چې پخوا ورسره بلد نه و. ماشوم چې څه اوري یا یې لولي په هکله یې فکر کوي؛ ترڅو اصلي مانا یې درک کړي، همدلته ده چې د ماشوم د تفکر قوه پیاوړې کېږي او کرار کرار د مسایلو په هکله فکر کولای شي. په کیسه کې ماشوم ځان د مختلفو شخصیتونو په چوکاټ کې احساسوي او د هغه د عزم قوه پیاوړې کېږي (نور، ۲۰۲۲). د کیسې د انتقال ډول په هغې کې شته اخلاقي ارزښتونو باندې اغېزه کوي (Rahim & dinia, 2012) او دا چې ماشومان له ذهني اړخه کرار کرار رمزي نړۍ درک کوي او د سمبولونو په کارولو بریالی کېږي. هغه څه چې په کیسه کې راوړل کېږي ماشوم دې ته هڅوي چې په ذهني تصویر جوړونه لاس پورې کړي او که کیسې د ماشوم عمر سره سمې لیکل شوې وي، کولای شي د ماشومانو پېژندیزه وده تحریک کړي. زکي (۲۰۱۴) ښودلې چې کیسې لنډ مهاله او اوږد مهاله اغېزې لري، په لنډ مهال کې لکه په موضوع کې را ښکېل کېدل او د هیجاناتو تجربه کول او اوږد مهال کې پر حافظه او شناخت باندې ښې اغېزې لري. چمبرز (۱۳۷۷) ښیي چې د خلاقیت رامنځته کولو لپاره نوی مېتود دی. نوښتګرې کیسې د ویونکي او اورېدونکي تر منځ غبرګه اړیکه پیدا کوي او د هغوی د تخیل قوه تحریکوي. ریمونډ (۲۰۰۸) ښودلې چې د کیسه ویلو له مېتود څخه کار اخیستل په ماشومانو کې د زده‌کړې او نوښت په برخه کې مهم تغییرات را منځته کولای شي. رضایي (۱۳۹۳) لیکي چې کیسه درملنه د رفتاري ستونزو په کمولو، خپګان له منځه وړلو، زده‌کړې او نوښت په برخه کې مهم رول لوبولای شي. له ۷ تر ۱۰ کلنو ماشومانو باندې د لنډو کیسو د اغېزو معلوموڵو یوې څېړنې چې د کمپل او ملګرو (۲۰۱۴) له لوري تر سره شوې ښودلې چې تر ازمایښت لاندې ماشومانو د کنټرول ډلې ماشومانو په نسبت په لیدلوري، ګډې دوستۍ، د تعارضونو حل او استدلال کې مخکې‌والی درلود. دغه موندنې د ماشومانو په وده کې د لنډو کیسو پراخ اغېز ښیي. کیسې اورېدل د همدلي را پیدا کېدو کې مرسته کوي، که څه هم لویان ممکن ادبي کیسې خوښې کړي (Kidd and Castano, 2013)؛ خو ماشومانو ته ساده او سمبولیکې کیسې هم د خوښې وړ ګرځي. د کیسو ویلو او لیکلو کلتور په انساني تاریخ کې پېړیو مخکې ته ور ګرځي زیپس (۲۰۱۸)، دغه کیسې د سواد زده‌کړې پر مهارتونو سر بېره لنډې کیسې کلتوري ارزښتونه او تاریخ د داسې لارو چارو په مرسته ماشومانو ته لېږدوي چې هغوی یې په خپل لید کې ځای کولای شي (ایوانز، ۲۰۱۵، ۵۱ مخ). د غربي

بنګال متوسطه ښوونځیو د ژبو په زده‌کړه کې د ودې په مختلفو برخو د ټاګور د کیسو اغېزې څېړنې ښودلې چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د ژبې، خلاقیت، تخیل او هوښیارۍ باندې مثبتې اغېزې لري (Sarkar, 2018).

ماشومانو ته کیسې ویل د هغوی د تخیل قدرت زیاتوي، په ذهني تصویر جوړونه او نوښت کې ورسره مرسته کوي. کیسو ته غوږ نیول د دې سبب کېږي، چې ماشوم د کیسې شخصیتونه، ځای او طرحه په خپل ذهن کې راوړي او فکر وکړي. دا کار د دې سبب کېږي چې په ماشوم کې ذهني تصویر جوړونه غښتلې شي او ذهن یې د فکر کولو او پدیدو په منسجم کولو کې له محدودیت څخه را ووځي (روانشناس متخصص کودک، ۲۰۲۴).

**د څېړنې پایلې**

د دې څېړنې موندنې ښيي چې د ماشومانو پېژندیزه او فکري وده د عمر په تېرېدو سره په طبیعي توګه له بېلابېلو پړاوونو څخه په تېرېدلو سره انکشاف کوي؛ مګر په چاپېریال پورې تړلي مختلف عوامل یې په چټکتیا یا ټکني کېدو کې رول لوبولای شي. د کیسو اورېدلو یا لوستلو پر مهال ماشومان د تخیل نړۍ ته ننوځي چې دغه چاره په هغوی کې له نوښت سره مرسته کوي. همدارنګه کیسې په ماشومانو کې د زده‌کړې پېژندیز اړخ غښتلی کوي او د اطلاعاتو زیاتېدو سبب کېږي. کیسې اورېدل کولای شي ماشومان فکر کولو ته وهڅوي او یو محرک چاپېریال ورته را منځته کړي. کیسې اورېدل ماشوم ته دا امکان ور کوي چې ځان د مختلفو شخصیتونو پر ځای فرض کړي او د همدلۍ حس پکې ښه وده وکړي. که کیسې د ماشوم عمر ته په کتو تنظیم شي د اورېدو پر مهال یې هغوی مثبت هیجانونه تجربه کوي او اوږد مهاله مثبتې اغېزې هم لري. د ماشومانه کیسو له لارې مختلفې پوهې هغوی ته لېږدول کېږي چې هغوی ته د درک وړ دي او ذهني چوکاټ کې یې را وستلای شي.

پایله

له دې څېړنې څخه پایله اخیستلای شو چې ماشومانو ته د ماشومانه کیسو ویل د هغوی پېژندیزې ودې سره مرسته کوي. د ماشومانو پېژندیزه وده د وخت په تېرېدو سره وده کوي خو محرک چاپېریال کولای شي دغه وده چټکه کړي. د بېلابېلو عمرونو ماشومان چې د پېژندیزې ودې په مختلفو پړاوونو کې شتون لري کرار کرار د سمبولونو په کارولو بریالي کېږي او دا چې په ماشومانه کیسو کې مختلف مفاهیم د سمبولونو او کرکټرونو په شکل وړاندې کېږي ماشوم هڅه کوي چې ورباندې پوه شي او درک یې کړي. همدغه هڅه په ماشوم کې د تفکر جریان په لار اچولو سبب کېږي چې له امله یې پېژندیزه وده پراخوالی مومي. ماشوم چې هر څومره په کیسه کې فکر کوي او هر څومره چې له نویو کلیمو او

سمبولونو سره مخامخ کېږي په هماغه کچه ډېر تحریک کېږي، یعنې کیسه او په هغې کې ځای پر ځای شوي موضوعات د محرك په ډول کار کوي. د څېړنې له موندنو څخه ښکاري چې د کیسو اورېدل له ماشومانو سره په زده‌کړه، تخیل، درك او پېژندنه کې مرسته کولای شي. د کیسو لوستلو یا اورېدلو له لارې د ماشومانو استدلال غښتلی کېږي او د همدلی حس یې هم ښه وده کولای شي. له هغه ځایه چې په ماشومانه کیسو کې تلوسه موجوده وي؛ نو ماشوم بیړه کوي چې د کیسې په پایله پوه شي او مطلب ځینې واخلي چې دا بیا د ماشوم د فکري جریان په غځولو کې ګټور واقع کېږي. د دې لپاره چې ماشوم په کیسه کې شته موضوعاتو باندې پوه شي او له هغې څخه خوند واخیستلای شي؛ باید هغه درك کړي. یعنې راوړل شوې پېښې، حالتونه، کرکټرونه او نور باید د ماشوم لپاره معنی پیدا کړي. د همدې موخې لپاره باید د ماشومانو کیسې یو لړ ځانګړنې ولري؛ ترڅو د هغوی د درك وړ وګرځي. کم عمره ماشومان هغه کیسې خوښوي او په اسانۍ سره یې درك کوي چې د دوی د ذهني ودې متناسب لیکل شوې او جوړې شوې وي او هر څومره چې د ماشوم عمر زیاتېږي، دا ځواك پیدا کوي چې پیچلي موضوعات هم درك کړي. دې مهمې خبرې ته په پام سره ښایي له اووه کلنۍ پورته عمر ماشومانو ته کیسې داسې برابرې شي چې د دوی لپاره فکري او ذهني تحریك رامنځته کړي. ماشومانو ته ماشومانه کیسې ویل او یا د دوی له لوري د دغسې کیسو لوستل په دوی کې د پېژندیزې او فکري ودې د چټکتیا سبب کېدلای شي.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې او مطالعې له تر سره کولو وروسته میندو پلرونو او کورنیو ته لاندې وړاندیزونه لرو:

۱. له ماشومانو سره کیسو کولو او هغوی ته د نکلونو اورولو لپاره دې وخت ورکول شي او دغه کار دې په شوق او لېوالتیا سره وشي؛ ترڅو هم د ماشوم وخت ښه تېر شي او هم یې پېژندیزه او فکري وده پراختیا ومومي.

۲. د ماشوم عمر ته په کتو سره د هغوی لپاره دې مناسبې کیسې انتخاب شي او د ډېرو پېچلو او اوږدو کیسو له ویلو دې ډډه وشي.

۳. د ماشومانو لپاره دې داسې کیسې انتخاب شي چې ذهني وده تحریك کړي او د هغوی د فکري جریان په کار اچولو لپاره دې د هغوی پوښتنو ته په مینه ځواب ورکول شي، هغوی دې وهڅول شي چې د کیسې په هکله بحث وکړي.

## سرچينې

انځور، ز. (۱۳۹۳). *پښتو معاصر داستاني ادبيات (تاريخي ـ انتقادي کتنه*. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

پينل، ج. (۱۳۹۳). *روانشناسی فزيولوژيک*. ترجمه: فيروزبخت، مهرداد. چاپ سوم، تهران: نشر ويرايش.

چمبرز، د. (۱۹۹۹). *قصه گويی و نمايش خلق*. ترجمه: ثريا قزل اياغ. تهران: انتشارات مرکز دانشگاهی.

حسين قمري، ک؛ کريمی، س؛ خشنودنياي، ب. (۱۳۹۵). تأثير قصه درمانی درافزايش عزت نفس و خوداثربخشی کودکان پيش دبستانی. مطالعات پيش دبستان و دبستان. ۲ (٦)، ۴۹ـ ٦۰

رشتچي، مژگان. (۱۳۸۹). «ادبيات داستانی کودکان و نقش آن در رشد تفکر». مقاله علمی وزارت علوم. لومړی کال، ۲ گڼه.

روانشناس متخصص کودک. (۲۰۲۴). *فوايد قصه گويی برای کودکان*. سايت کودک و نوجوان https://kodakonojavan.com جنوري ۵.

رضايي، س. (۱۳۹۳). *پرورش خلاقيت درکودکان*. مجله موفقيت دو هفته نامه.

سيف، س. (۱۳۸۷۹). *روانشناسی رشد* ۱. تهران: سمت.

سيف، ع. (۱۳۹۵). *روانشناسی پرورشی نوين*. لسم چاپ. تهران: نشر دوران.

صياد، س. (۱۳۹۷). *منظوم داستاني ادبيات*. جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.

کشاورز، م. (۲۰۱٦). *تفکر انتقادی: اهميت، فوايد و محدوديت های آن د محيط های آموزشی*، ۲ چاپ، ٦ گڼه.

ماتلين، د. (۱۳۸۵). *روانشناسی عمومی*. ژباړن، محمدفاضل. کابل: انتشارات راز قلم.

منصور، م. (۱۳۸۹). *روانشناسی تحولی (تحول روانی از تولد تا پيری)*. تهران: نشر دوران.

ميرزاد، م؛ حبيبي، م. (۱۳۹۹). *روان شناسی تربيتی*. کابل: انتشارات يوسف زاد.

نظري، مينا (۱۳۹۹). *سندره، شعر او ږنګونه د ماشوم پر روان څه اغېزه کوي*.

Framework Based on Developmental Psychology and Literary Theory. Front. Psychol. 10:121. doi: 10.3389/fpsyg.2019.00121

Kucirkova. N. (2019). How Can Children's Storybooks Promote Empathy? A Conceptual

Rahim, H; Dinia, M. (2012). the use of stories as moral education for young children. *International Journal of Social Science*. Vol (2), 6.

Kidd, D, and Castano, E. (2013). *Reading literary fiction improves theory of mind*. Science 342, 377–380. doi: 10.1126/science.1239918

McEwan. H& Egan, K. (1995). Narrative in teaching, learning and research. New York: Teachers College press.

Muhammed, N. (2023). Exploring the Influence of Short Stories on Childhood Development: A Comprehensive Research Analysis. *Medina Department of Education, Ministry of Education, Kingdom of Saudi Arabia*. V (8), Issue 12.

Rana, S; Radhy, M; Padiri, Ruth, A; Nandinee, D; Vincent, K. (2014). Story: *An aid to positive child development. Indian Journal of Positive Psychology*. 5 (2).

Raymond, S. (2008). *Digital Storytelling in the Classroom: New Media Pathways to Literacy*, Learning, and Creativity. Computers and Composition, 25(4), 449-452.

Sarkar, S. (2018). *Impact of the Short Stories of R. N. Tagore on the Mental Development of the Children-Adolescence*. International Journal of Multidisciplinary and Current Research. Vol (7).

Zipes, J. (2015). *Grimm legacies: The magic power of the Grimms' folk and fairy tales*. Princeton University Press.

Zaki, J. (2014). Empathy: *a motivated account*. Psychol. Bull. 140:1608. doi: 10.1037/a0037679